DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۱۲۹
شماره مسلسل ۹۹۶
پنجشنبه ۲۸ ثور ۱۳۸۵ هـ.ش
۱۹ ربیع الثانی ۱۴۲۷ هـ ق
18 May, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

درولسی جرګه:

جلسه دیروزی بی نتیجه ماند



رای گیری بمنظور تائید ویا رد اعضای معرفی شده ستره محکمه بخاطر اختلافات میان نماینده گان در مورد اسناد تحصیلی آقای شینواری و اعضای پیشنهاد شده به اخیر افتاد.

از میان ۹ تن اعضای معرفی شده ستره محکمه سه تن آنان که دارنده تابعیت دوگانه بودند رد شده اند.ودر مورد یکی دیگر از این اعضا که کارت پناهندگی امریکا را در دست دارد نماینده گان به نتیجه نرسیدند.

بر اساس ماده ۱۱۸ قانون اساسی علاوه از شرایط دیگر اعضای ستره محکمه باید تابعیت افغانی داشته باشند و در عرصه های حقوق با فقه اسلامی تحصیلات عالی داشته باشند.

گرچه در روز های قبل گفته شد که آقای شینواری اسناد تحصیلات عالی در دست ندارد وسند تحصیلی یک عضو دیگر ارزیابی نشده است، ص۴

هاشم اشجع:دایران په روان سیاست کې به له زور سره سم کوم بدلون رانشي

په کابل کې دایران اندې دایران په روان سیاست کې به له زور سره سم کوم بدلون رانشي.

په نړۍ کې دایران داتومی پروګرام مسئله یوه مهمه او دپام وړ موضوع ده چې غربی هیوادونه په ناقراری بحثونه پری کوی. دامریکا متحده ایالاتو او ملګرو هیوادونو یې په ایران زور راوړی ترڅو د دولتی چارواکی دغه دعوی بی ځایه بولي.

د چهارشنبې دورځې له غرمې مخکې د ۱۱ بجو په شاو خوا کې دکندهار ښار ختیځ په نورشوراندام په سیمه کې دیوه ځانمرګی برید له املې MACCA UN ماین پاک کونکی دموسسې یو موټر ویجاړ او خپله برید کوونکی وژل شوی. ۴مخ

دیگر اعضای ستره محکمه باید تابعیت افغانی داشته باشند و در عرصه های حقوق با فقه اسلامی تحصیلات عالی داشته باشند.

گرچه در روز های قبل گفته شد که آقای شینواری اسناد تحصیلات عالی در دست ندارد وسند تحصیلی یک عضو دیگر ارزیابی نشده است، ص۴

دستگیری دوسارق

در نتیجه یک عملیات پولیس در منطقه ظفر خیل ولایت زابل در شاهراه کابل قندهار دو دزد باز داشت شده اند. فرمانده امنیه ولایت زابل میگوید که این عملیات پس از حمله شماری از دزدان مسلح که میخواستند پول وموتر افراد ملکی را چپاول کنند صورت گرفته است.

در همین حال طالبان ادعا میکنند درین حمله که از سوی افراد این گروه صورت گرفته است ۶ موتر به آتش کشیده شده اند.

قوماندان امنیه ولایت زابل گفت که شماری از دزدان مسلح که قصد چپاول پول وموترهای افراد ملکی را در منطقه ظفرخیل ولایت زابل درشاهراه کابل قندهار داشتند بالای یک موتر تیلر حمله نمودند که در نتیجه دوموتر که توسط تیلر حمل میشدند حریق گردیدند.

اما دقایق پس از رویداد پولیس در محل رسیده که در نتیجه عملیات پولیس دوتن از این دزدان با مقدار سلاح ومهمات دستیگر شدند. به گفته قوماندان امنیه ولایت زابل این رویداد تلفات جانی دربرنداشت اما خسارات مالی را ببار آورده است.

ایجاد مرکز خدمات انترنت در نیمروز

در ادامه تلاش ها به هدف تامین بهتر ارتباط ولایات کشور با جهان خارج برای اولین بار یک مرکز خدمات انترنت در ولایت نیمروز تاسیس وبه فعالیت آغاز کرده است.

این مرکز روز گذشته توسط مقامات محلی در آن ولایت رسماً افتتاح گردیده است.

علم رسولي معاون والی نیمروز گفته است که این مرکز انترنتی بوسیله یکی از ساکنان ولایت غور ایجاد گردیده ودر حال حاضر در یک وقت ۲۵ تن از افراد میتوانند از آن استفاده کنند.

در عین حال منابع در نیمروز اظهار داشته اند که اطاق های مخصوص برای استفاده زنان ازین مرکز نیز در نظر گرفته شده است.

سرمقاله

ولې په سرحدي پولو کې دغیر صحی توکو دراوړلو مخنیوی نه کیږي؟

سره له دې چې په هیواد کې دموقتي اداري له جوړیدو څخه تر اوسه پورې تر څلورو کلونو زیاته موده تیریږي او خینې نسبي بریاوې مو هم تر لاسه کړې دی خو دهیواد په دننه کې لاتر اوسه پورې زمونږ واردات صعودی ګراف راڅپلوی دبیلابیلو توکو دواردولو په زیاتوالی سره نه یوازې دا چې زمونږ دخپلو تولیدی توکو درامنځته کیدو او بازار مخه نیسي او دبیکاری کچه زیاتیږي بلکې دبی کیفیته وارداتی توکو په را واردولو سره دهیواد والو اقتصاد او ان روغتیایی برخې ته زیات زیانونه را اړوی. دهیواد ولایاتو او مرکز ته له پولو څخه داسې درملونه ، شربتونه، غوښې ، دماشومانو دلوبوشیان، جاولې او چاکلیتونه راواردیږي چې دزیاتو روغتیایی ستونزو سبب شوی دی او کیږي.

درارسیدلو ریوتونو له مخې دکابل ښاروالی ددمارکیتونو د تنظیم ریاست په کابل ښار کې له پولو څخه راوړل شوی په ټینونو غوښې او په زرونو بوتلونه شربتونه ونیول چې غوښه یې بوی کړی او شربتونه یې خراب شوی او زمونږ په هیوادوالو باندې پلورل شوی او پلورل کیدل.

دداسې جعلی توکو اوله وخت څخه دتیرو شوو خوراکی موادو دراوړلو لپاره ولې زمونږ په سرحدی پولو کې دراوړلو اجازه ورکول کیږي؟

په پښتو کې یو متل دی چې لمر په ګوتو نه پتیږي څرګنده ده چې په هیواد کې اداری فساد او بدې خپل اوج ته رسیدلی دی زمونږ له سرحدونو څخه دداسې غیر صحی خوراکی موادو راوړل او اجازه ورکول دبډو په ورکولو سره سر ته رسیږي.

داسې جعلی توکې او غیر صحی او له وخت تیر خوراکی مواد که چیرې له پولو څخه دبیلابیلو ارتباطاتو په ټینګولو او بډو ورکولو سړه را داخل شي تر هغه چې مسوولې اداري وریاندې خبریږي زیاته برخه یې زمونږ په بې خبرو هیوادوالو باندې پلورل کیږي خو ددولت اړونده مسوولې اداري ددې سې دبې کیفیته او بې ضرورته وارداتی توکو دبندولو او دغه راز دغیر صحی خوراکی توکو د کلک مخنیوی په برخه کې قانون تر پښو لاندې کوی او خپل جیبونه ډکوی.

داولس غوښتنه داده چې باید دغه مخنیوی په سرحدی پولو کې سر ته ورسیږي چې تر .ې زیات زمونږ دهیوادوالو دصحت او اقتصاد لپاره زیان ونه رسوی.

پنځه شکن کسان ونیول شول

دملی دفاع وزارت دیوې خبر پاڼې په خپرولو سره ویلی چې دغه عملیات ۲۳۰ نمبر تندر قول اردو سرتیرو دسه شنبې په ورځ ترسره کړل او په ترڅ کې د ۲ میله ماشیندارو او یو آر پی جی راکټ سره یو ځای پنځه شکن کسان هم نیولی دی.

په خبر پاڼه کې دا هم راغلی چې په همدې ورځ دغو سرتیرو دیو لړ تصفیوی عملیاتو په ترڅ کې چې د باک په ولسوالی کې ترسره شول ۲۱ میله کلاشنکوفونه او ۱۱ میله یولس ډزی تراسه کړی خو په تراو یې څوک نه دی نیول شوی.

که څه هم په عملیاتو کې دولتی سرتیری دعملیاتو له زیانونو څخه په امن پاتی شوی بلل شوی دی خو دسه شنبې په شپه په یوه وخت دخوست په دوو ولسوالیو کې دنښتو پر مهال ددوو امنیتی پولیسو د وژل کیدو او ددوه قومی اربکیو په ګډون د ۱۱ تنو دتپې کیدو خبر ورکړی دی.

په کندهار کې ځان مرګی برید

په کندهار کې پرون یو ځای مرګی برید وشو او یوازې برید کوونکی پکې له منځه ولاړ. په سهیل کې دطالبانو یو ویاند آریانا تلویزیون ته د تیلیفون په کربنه ددغه برید مسوولیت په واک کې واخیست او زیاته یې کړه چې دچهارشنبې په شپه یې دکندهار په پښتون وزلی خو کوټ په ولسوالی کې د برید په ترڅ کې ۷ پولیس وژلی خو افرادرا رد نکرد، اما میگوید احتمال میرود این ادعا بر اساس دشمنی های شخصی باشد. ص۴

بدلمنې انجونې خپلو هیوادونو ته ولیږل شوې

هغه ۷ بهرنی نجونې چې پولیسو دکابل په ښار کې دبد لمنیو، اخلاقی فساد او دنشه یې توکو کارونو په تور نیولی وې دچهار شنبې په ورځ دکابل نړیوال هوایی ډګر له لارې خپلو هیوادونو ته واستولې.

شکایت مردم از محکمه

شماری از باشنده گان ولسوالی ورس ولایت بامیان از قاضی محکمه در آن ولسوالی شکایت دارند.

آنان میگویند که قاضی محکمه بصورت آشکار از مردم رشوت میگیرد.

والی بامیان گفته های این

از نظام سازی تا بحران اعتماد
ص۴

روابط انسانها در یک جامعه مدنی در ماهیت دموکراسی
ص۲

روابط انسانها در یک جامعه مدنی در ماهیت دموکراسی

پیوسته به گذشته

سرواحد مطیعی

قدرت ذخیره در اینجا دو معنی دارد، یکی به معنی توانایی ذخیره کردن و دیگری قدرتی که حاصل آن توانایی است. یعنی برای ذخیرهٔ قدرت اضافی و حفظ آن ، قبل از هر چیز بایستی توانایی یا قدرت آن کار را داشت ، این توانایی به درجات مختلف با توجه به جایگاه تکاملی موجودات به شکل پتانسیل در آنها نهاده شده و اکتسابی نیست . اما برای ذ خیره کردن قدرت آن پتانسیل بایستی اعمال شود. بنا بر این میتوان گفت که قدرت ذخیره شده خود جاصل اعمال قدرت می باشد دو در نتیجه عامل اکتساب یعنی کسب کردن یا به دست آوردن نیز در آن نقش دارد.

ویژگیهای قدرت

الف - رقابت:

از آنجا که در هر حال پدیده های موجود در طبیعت که منبع قدرت نهفته می باشند محدود می باشد، موجودات زنده بناچار برای تداوم حیات مجبور به رقابت با دیگر موجودات می باشند. این رقابت بسته به درجه تکاملی موجود زنده، اشکال مختلف پنهان یا آشکار به خود می گیرد.

رقابت هم جنبه اثباتی دارد و هم نفی ای. جنبه اثباتی آن ناشی از تمایل برای بدست آوردن هر چه بیشتر منابع قدرت و در نتیجه امکان بهتر تداوم حیات و جنبه نفی ای آن دفع تجاوز دیگر همنوعان یا موجودات دیگری است که آنها هم به همان منبع نیاز دارند. بهمین دلیل تمامی موجودات زنده بطور مداوم در حال درگیری و تدافع و تهاجم به سر می برند و از مجموعه این درگیریهاست که حوزه های قدرت شکل می گیرد.

ب - اتوریته:

اتوریته یعنی توانایی در اعمال قدرت.

هر موجود زنده ای برای تداوم بقا نیاز به یک محدوده مکانی دارد که بتواند با استخدام نیرو و قدرت نهفته در آن حوزه، به حیات خود تداوم بخشد. این حوزه یا محدوده، اما همواره از طرف موجودات دیگر مورد هجوم است. آن چیزی که در این جنگ تنازع بقا تعیین کننده است، توانایی او درتثبیت اتوریته اش بر یک محدوده مکانی مشخص است که آن نیز بستگی مستقیم به میزان قدرت او دارد . این محدوده مکانی، حوزه قدرت آن موجود محسوب می شود.

پ - سیا ست:

وقتی یک موجود، موفق به تثبیت اتوریته خود به یک حوزه قدرت می شود، برای اعمال قدرت بر آن حوزه، مجبور است بطور مداوم از آن حوزه، در مقابل دیگر موجودات و همنوعان خود، دفاع نماید. دفاع مداوم مقدار زیادی از قدرت ذخیره ای که ا و دارد را به تحلیل می برد. این مسئله توانایی اعمال قدرت او به حوزه تحت سلطه اش را تضعیف می کند و سبب می شود که او اتوریته اش را بر آن حوزه قدرت از دست بدهد و دیگری جای او را بگیرد. موجود دیگری که جای او را می گیرد، نیز به نوبه ی خود چنین سرنوشتی خواهد داشت و این روند همینطور ادامه پیدا می کند. یعنی اعمال اتوریته بر حوزه های قدرت دائمی نمی باشد و تا زمانی تداوم دارد که آن موجود در موضع قدرت است و تعادل قوا به نفع اوست. به محض اینکه تعادل به ضرر او بچرخد او ناچار میشود حوزه ی قدرت تحت اتوریته اش را رها کند و به جستجوی یک حوزه ی دیگر بپردازد.

می توان گفت که رابطه آن موجود با قدرت همواره سیا ل و نامعین می باشد. چرا که علاوه بر میزان قدرت ا و به قدرت دیگری نیز بستگی دارد و او هیچ کنترولی بر میزان قدرت دیگری ندارد .

بنا بر این میزان قدرت در هر حال همواره، به عوامل متعدد و متغیر خارج از اراده او بستگی دارد این وابستگی به قدرت خصلت سیا لیت میدهد.

ت - نسبیت:

درجه اعمال قدرت و اتوریته یک موجود بستگی مستقیم به توانایی هایی دارد که او در پروسه تبدیل قدرت نهفته به بالفعل و ذخیره آن به دست می آورد. این توانایی جایگاه او را در نردبان قدرت تعیین می کند. توانایی بیشتر جایگاه او را در نردبان قدرت بالا می برد و به همان نسبت کیفیت دخالت او و اعمال قدرت در محیط پیرامونش را بیشتر میکند. ا ینچنین است که نردبان قدرت شکل می گیرد. موجوداتی که در پله بالاتری از نردبان قدرت قرار می گیرند صاحب ابزاری می باشند که در صورت نیاز به آنانی که در پله های پایین تر قرار می گیرند، اعمال قدرت یا اتوریته می کنند ولی خود آنها نیز به نوبه خود در حوزه قدرت و اتوریته آنانی قرار می گیرند که در پله ای بالاتر از آنان قرار دارند. پس درجه قدرت یک موجود وابسته به جایگاهی است که ا و در نردبان قدرت دارد.

ث - تمرکز:

تمرکز قدرت در حالت طبیعی دارای دو صورت می باشد. تمرکز کمی و کیفی.

تمرکز کمی، از آنجا پدیدار می شود که انواع موجودات هر چه در مرحله بالاتری از نردبان قدرت باشند، نیاز به منابع انرژی و قدرت بیشتری دارند، از طرفی منابع انرژی و قدرت محدود می باشد، نیاز بیشتر و محدود بودن منابع ، تعداد یا کمیت را محدود می کند. بنابر این می توان گفت که بشکل طبیعی، تعداد یا کمیت هر موجود با توجه به جایگاه او در نردبان قدرت، کم یا زیاد می شود. هر چه از نردبان به سمت پایین حرکت کنیم تعداد، بیشتر و بالعکس هر چه بالاتر رویم، تعداد کمتر می شود. این بدین مفهوم است که کمیت آنها همواره میل به تمرکز دارد. این مسئله در رابطه با کیفیت قدرت نیز صادق است. یعنی تمرکز قدرت نیز در آنهایی که در بالای نردبان قرار دارند بسیار بیشتر از آنانی است که در پایین ان قرار دارند. هر چه از نردبان قدرت بالا برویم، قدرت انفرادی موجودات بیشتر می شود. یعنی هر چه تعداد کمتر باشد، برای جبران کمبود تعداد غلظت قدرت انفرادی اعضاء هم نوع افزایش می یابد. بنابراین کیفیت قدرت نیز میل به تمرکز پیدا می کند.

د حالاتو د لا خرابیدو زیگنالونه تر غوږو کیږی

تایلند

کله چې په هیواد کی دسراسری امنیت خرابوالی او دمسوولینو بی پروایی ته وګورم او یا خو دبهرنیو ځواکونو دمسوولینو ډاډ ته ځیر شوم ماته په ۱۳۷۱ کال کی دمجاهدینو تر راتګ دمخه دپیام ورځپانی په یوه ګڼه کی یوی لیکنی ته زما پام واوړی دکندهار له ولایت څخه یو خبریال د امنیت په باره کې یو راپورتاژ راوړی و په هغه کی یی دکندهار په ښار او شاوخوا کی له خلکو او دولتی ملیشو سره مرکی کړی وی هغوی ټولو په ځپلو مرکو کی د امنیت دشته والی تائید کړی و او هر یو دا ویلی و چی دلته امنیتی ځواکونه او قومی ملیشی موجود دی دمجاهدینو دراتګ په وړاندی دسپر په څیر ولاړ دی او مونږ هیڅکله چاته اجازه نه ورکوو چی دلته امن خرابه کړی.

سهار ته چی نوموړی ورځپانه راوتله دشپی په خبرونو کی وویل شول چی دکندهار هوایی ډګر ته څیرمه له کابل څخه یوه مسافروړونکی الوتکه په توغندی ولګیدله او ۵۴ کسه په هلاکت ورسیدل د امنیت په باره کی راپورتاژ هم په نوموړی ورځپانه کی خپور شو او دالوتکی دغورځیدو او دسپرلیو د وژل کیدو خبر هم خپور شو خلك هك پك شول چی دا ډول امنیت ته امنیت ویلای شو؟ چی الوتکی په کی په توغندیو لګیږی مسافرین وژل کیږی او بیا هم په هغه وخت کی دولت دامن خبره کوله او تبلیغات یی کول چی سراسری امنیت دی.

اوس هم خبره له هغه وخت څخه کمه نه ده زمونږ خپل مسوولین هم تټر وهی چی بس دښمن هیڅ نشی کولای د بهرنیو ځواکونو مسوولین هم دبی امنیتی په برخه کی څوك ملامت کولای نشی نو اوس پوښتنه دا ده چی دا څه ډول امن او امنیت دی چی دولتی کسان په لویو لارو کی له موټرونو څخه کښته کیږی او وژل کیږی له پولیسو څخه سرونه غوڅیږی بهرنی کارکوونکی حلالیږی دکابل په زړه کی دبانکونو پیسی چور او وړل کیږی.

دننګرهار له ولایت څخه چی کوم ځوانان دهلمند ولایت ته دکوکنارو دپچك وهلو لپاره تللی وو دهغوی د ویناوو له مخی هلته په اطرافونو کی طالبان واکمن او ګرزیدل پولیس په خپل رسمی یونیفورم کی ځانته له ولسوالی څخه وتلی نشول دهغوی د وینا له مخی هلته ټول خلك دطالبانو ملګری او پلویان ښکاریدل په وروستیو وختونو کی دطالبانو له خوا دښوونځیو د سوځولو لړی له سلو څخه هم واوښته اولا اوس هم مونږ خپل تټر وهو دا به تر څو پوری وی یعنی دا کار به ترهغه وخت پوری کوو چی دښمن دستونی لاتدی راته ودریږی.

او دا به داسی وخت وی چی له بهر څخه راغلی مسوولین به له خپل پاسپورت او د دویم تابعیت له سند سره بهرته په منډه وی او خوار غریب به بیا دیکتاتوریزو حرکاتو ته منلو مجبوراً سرتیتوی او ددغی منځته راغلی نسبی دموکراسی نوی شنی شوی ریښی به بیرته مړاوی او وچی شی ددی ټولو بدبختیو علت یوازی او یوازی، په همدی کی لیدلای شو چی په هیواد کی قانونیت وجود نه لری اداری فساد او دبډو اخیستلو دود بنه په اوج کی روان دی مجرمین په بیلابیلو لارو خوشی کیږی او دخلاصیدو او تللو زمینه ورته برابریږی او ترهغه چی دا کار روان وی مونږ دسراسری امن او حالاتو دښه کیدو امید اوهیله نشو کولای په هیواد روانو بی امنیتیو زیات اندیښنی رامنځته کړی دی دهیواد والو په ذهن دجهاد دوختونو پیښی اوحرکتونه تداعی کوی.

که چیری زمونږ د دولت امنیتی ځواکونه بهرنی ځواکونه او پخپله خلك په لاس دمخربو عناصرو د کړنو مخه ونه نیسی نو ویلای شو چی په هیواد دډیرو ناوړو بی امنیو به لیدونکی شومونږ همدا اوس په یوه داسی بیړی کی سپاره یو چی داصل منزل وروستی هدف دبیړی له مانو پرته چاته نه دی معلوم شوی وګورو چی څه به کیږی خو پوازی دومره ویلای شو چی اوسنی را روان حالات داندیښنی وړ دی او ترپرون دزیاتو تراژیدیو درامنځته کیدو زیګنالونه ترغوږو کیږی.

متصدی: سباوون

د بیا رغاونی په لور

په هیوادکې دګړ ځندوی لپاره دتګ لارې جوړول

یوه المانۍ شرکت په هیواد کې د ګرځندوی لپاره پنځه کلنه تګلاره جوړه کړې چې د دوی په وینا به د دغې مودې تر پایه هیواد ته د کال تر ۱۰۰ زرو ډیر سیلانیان راشي.

خو د ګرځندوی صنعت دغه ټولوونکی شرکت وایي تر هر خه دمخه باید په هیواد کې سیلانیانو ته امنیتي وضعه د ډاډ وړ وي

وروسته له دیرشو کلونو یووار بیا د ګرځندوی بهرنیو شرکتونو هیواد کې د کار کولو او د سیلانیانو د را ماتولو هڅې پیل کړې. آلماني یلتیس شرکت د فرهنګ اوخوانانو وزارت سره په سلا مشورې، هیواد کې ګرځندوی ته نوې پنځه کلنه تګلاره جوړه کړې چې له پلې کیدو سره به یې هیواد د کال نږدې ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره ګټه کوي.

د دغې تګلارې بنسټیزه موخه د ګرځندوی له لارې د هیواد اقتصادي وده ښودل شوې.

د یلتیس د شرکت مشر ډاکټر توماس هیلي وایي په دغې تګلارې کې هغه ټولې آسانتیاوې شته چې یو سیلانی یې تمه کوي.

ښاغلی هیلي وایي: «د ماستر پلان د پلي کولو لپاره باید په هغو خوندي ځایونو کې چې سیلانیان پکې سفر کوي هوټلونه جوړ شي، آسانتیاوې برابرې شي، د ښو خوړو بندو بست وشي او وروسته له ګاونډیو هیوادونو سره د سیلانیانو د تګ راتګ لیکې جوړې شي. موږ به د روزلو یوه اکاډمي جوړه کړو چې په هغه کې به سیلانیانو ته د خدماتو او معلوماتو ورکونکي روزل کیږي. وروسته به په کابل او د کندهار په شان لویو ښارونو کې ښه ښه هوټلونه جوړ کړو.»

ښاغلی هیلي وایي سیلانیانو سره د لیدو کاتو پرمهال له دوی نه په لومړي سرکې پوښتل کیدل، هیواد کې امنیت څرنګه دی؟

ښاغلی هیلي وایي ده به هغوی ته ویل د ده په آند د یوه ښاري وګړي یا سیلاني لپاره امنیت ښه دی او د ده په وینا ډیرو سیلانیانو د هیواد له اوسني امنیت سره هم راتګ ته زړه ښه کاوه.

د یلتیس شرکت دکارکوونکو په وینا بهر کې ډیر خلک لیوال دي چې له هیواده لیدنه وکړي.

په ۱۹۷۰ مو کلونو کې چې د کال نږدې ۱۵۰ زره سیلانیان هیواد ته راتلل دغه هیواد ته ۴۰ میلیونه ډالره ګټه رسیده



افغانستان بهرنیو کارکوونکو ته ارتیالري؟



د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزارت وایي په دغه هیواد کې یې د څه باندې سل زرو بهرنیو کارکوونکو د راجستر بهیر په دې هیله پیل کړی چې وګوري د افغانانو ځای نه وي نیول شوی

دغه وزارت بي بي سي ته وویل چې له تیرو دوو میاشتو څخه دوی د دغو کارکوونکو د راجستر کولو چارې پیل کړي دي په افغانستان کې په کار بوخت بهرنیان په بیلا بیلو برخو کې فعاله دي خو ځینې افغانان شکایت لري چې دغه بهرني کارکوونکیو ډیر عادي کارونه نیولي چې ځایي خلک یې کولی شي

په تیرو څلورو کلونو کې د افغانستان په یو شمیر لویو ښارونو کې ګڼ شمیر هوټلونه جوړ شوي چې ځینې یې د میلمه پال په څیر عادي کارونو ته هم بهرنیان ګماري

د کار او ټولنیزو چارو وزارت وایي دوی د بهرنیو کارکوونکو راجستر په دې هیله پیل کړی چې هسې نه د افغان کارګرو ځای نیول شوی وی

د کار او ټولنیزو چارو وزارت وایي دوی د نوې جوړې شوې مقررې له مخې له ټولو ادارو غوښتي چې بهرني کارکونکي دې له ثبت او راجستر پرته په کار

ګماري

د دغه وزارت مرستیال واصل نور مومند وایي تر اوسه یې څه باندې ۲۰۰۰ بهرني کارکوونکي راجستر کړي دي

«د دوو میاشتو راهیسې چې د بهرنیو ګړو د جواز لړۍ پیل کړی تر اوسه مو څه د پاسه دوو زرو بهرنیو ته د کار اجازه لیک ورکړی دی چې هر اجازه لیک ۲۵۰۰ افغاني بیه لري او دا پیسې د افغانستان مالیې وزارت ته ځي چې په ملي عوایدو کې حسابیږي»

دغه افغان چارواکی دا مني چې په افغانستان کې کاري کدرونه لږ دي

د دوی په ګومان ښایي همدا دلیل وي چې تر ۱۲۰ زرو پورې بهرني کارکوونکي نن سبا په افغانستان کې په کار بوخت دي

خو مومند د اشپز په څیر دندې ته د بهرنیانو ګمارنه د وخت ارتیا ګڼي

«کورني تپل شوي جنګونه د دې لامل شول چې زمونږ د هیواد نارینه او ښځینه له ځینې فني مهارتونو له زده کړې څخه شاته پاتې شول. هغه پانګوال چې په دې برخې پانګونې کړي په دې لټه کې دي چې داسې کسان په کار وګماري چې خپل هوټل او یا کمپنۍ پرې وچلوي. لکه پیتزه، سوپ اویا داسې نور خواړه برابر کړي چې په دغو پخلیوافغان کارکونکي نه پوهیږي.»

په کابل کې د صافي لنډمارک هوټل اداري مشر فرقان شاه چې خپله هم بهرنی دی وایي په هوټل کې یې په سلو کې ۳۰ بهرني او پاتې نور یې افغان کارکونکي دي

ښاغلی فرقان وایي زیاتره افغان کارکونکي د هوټل په کارونو کې ډیره تجربه نه لري. نو ځکه یې یو شمیر مسلکي کسان د هغوی د روزلو لپاره له بهره راغوښتي دي

«افغان کارکونکي د هوټل داري په برخه کې تر اوسه مسلکي نه دي. زمونږ د اداري د مسلکي کسانو یوه ډله د لټه راغلې چې د ډیر ژر به په دغه هوټل کې د افغان کارکوونکو روزنه پیل کړي. چې افغان کارکونکي په لوړه سویه وروزي.»

حلیم اکرام چې د پاکستان اوسیدونکی دی او د کابل په یوه هوټل کې کار کوي وایي دلته یې د ګمارنې علت دا دی چې په څو هیوادونو کې د پخلي تجربه لري

حلیم اکرام وایي اوس په کابل کې له کار سره څنګ ته افغانان هم روزي

«د لته کارکونکي ښه مسلکي نه دي. زه دلته کارکوونکي د چینایي، ایټالیوي او ځینو نورو پخلیو په برخه کې روزم. موږ غواړو د پخلي په برخه کې د دوی زده کړې له لومړي سره سره پیل کړو خکه دا دوی ته د هوټل داري په برخې کې خورا مهمې دي.»

په هوټلونو کې د بهرنیانو د کار یو بل دلیل د افغاني میرمنو نه چمتووالی بلل شوی دی.

د صافي لنډمارک هوټل اداري مشر فرقان شاه وایي ښځو ته د کار په ډګر کې ارتیا لري خو ښایي افغاني دودونه ورته خنډ پېښوي.

دا په ټوله کې په افغانستان کې یوه ستونزه ده. تاسو پوهیږي زیاتره خلک له یو شمیر نورو هیوادونو سره د ټولنې په ستندردونو کې سیالي نه کوي. هغوي خپلې خویندې، میندې او ښځو ته اجازه نه ورکوي چې په مارکیټونو کې کار وکړي.

«موږ کوښښ کوو زیات شمیر نجونې او ښځې د میلمه پالنې، میلمنو ته د ښه راغلاست ویلو، د هوټل پاکولو، تجارتي ځانګې او همدا ډول نورو کارونوته وګمارو، خو زیاتر وخت موږ د هغوی له کورنیو سره په ستونزې کې یو. او له همدې ستونزې سره سره یوازې دري نجونې له موږ سره کار کوي.»

د کار او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال مومند وایي د هغو بهرنیو کارکوونکو ملاتړ کوي چې د افغانستان د کادرونو د روزنې لپاره د غه هیواد ته راځي. خو نومورې غوره دا بولي چې کار سپارونکي د لومړیتوب حق خپلو افغانانو ته ورکړي.

کابل پاکستان ته د منځنۍ اسیا د برېښنا لار ورکوي

افغانستان منلې چې له خپلې خاورې د تاجکستان او قرغیزستان برېښنا پاکستان ته د برېښناد مزي د غځولولە لارې ورکړي خو په دې شرط چې اسلام آباد د دې کار لپاره ترانزایتي پیسې ورکړي او دا مزي د واخان پر ځای له کابل څخه تیر شي.

دا خبره د هیواد د اوبو او انرژۍ د وزارت اداري معین محمد جلیل شمس اسلام آباد کې د هیواد، پاکستان، تاجکستان او قرغیزستان د انرژۍ د وزیرانو او جګپوړو چارواکو په یوه غونډه کې کړې ده

کله چې په غونډه کې د تاجکستان او قرغیزستان استازو پاکستان او هیواد ته د ۴۰۰۰ میګاواټه برېښنا د ورکولو اعلان وکړ نو په غونډه کې ګډون کوونکو د نړیوالو ادارو غړو په دې پروژه کې د پانګې اچولو په اړه علاقه مندي څرګنده کړه.

غونډه کې د نړیوال بانک، د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداري، د اسیا د پرمختیایي بانک، اسلامی پرمختیایي بانک او د نړیوال وجهي صندوق استازو هم د هیواد له لارې د برېښنا د مزي د غځولو د پروژې ملاتړ اعلان وکړ.

د هیواد استازي شمس وویل چې د مرکزی اسیا له هیوادونو سره د تړون د نهایي کولو لپاره یوه غونډه کې د ۲۰۰۵ کال د مارچ په میاشت کې کابل کې ترسره شوې وه.

هغه دا خبره په ګوته کړه چې د مرکزي او جنوبي اسیا ترمینځه د هیواد نه پرته تجارت ممکن نه دی.

افغان پلاوي وویل د برېښنا د مزي غځولو لپاره د کابل لار په تکنیکی توګه صحیح ده.

هغه زیاته کړه چې دا لار د واخان د لارې په ځای د کابل له لارې په امنیتي توګه هم سمه ده او دا چې په دې به د لګښت اندازه هم ډیره کمه وي. د شمس په وینا د واخان لارې ته سرکونه سم نه دي او یخ موسم کې دا لار تر شپږو میاشتو تړلې شوي وي. غونډه کې ګډون کوونکو د پروژې په اړه په نورو خبرو او د یو رپورټ په تیارولو موافقه وکړه.



از نظام سازی تا بحران اعتماد

آسوده مبصر اراده

دولت افغانستان وادارات آن از چار سال به اینسو در تلاش آنند که مبتنی بر فیصله های بن یک نظام قانونمند ،قابل اعتماد ونیرومند ساخته شود.

ساختن چنین نظام مستلزم آنست که حکومت ودر مجموع دولت درساختار آن صرف مساعی نمایند وتا آنجائیکه مقدور است، عمل ونظر شان از شفافیت لازم برخوردار باشد.

جای تعجب است که دولتمردان پیوسته سعی بر آن دارند که حتی الامکان از مصلحت ومعامله کار بگیرند وبه جای آنکه منافع ملی ومصالح همگانی را در نظر بگیرند ، میخواهند منافع شخصی، گروهی، آنی وعاجل را پیش بکشند وآنرا جامه عمل بپوشند. طی چار سال گذشته قدم به قدم ما خشتهای مصحلت را روی یکدیگر چیدیم، وبخوبی از همان اجلاس بن تا لویه جرگه قانون اساسی وانتخابات ریاست جمهوری واز آن گذشته الی انتخابات پارلمان ومانند آن.

بگذریم از اینکه تا این مرحله چه اتفاقاتی افتاد وکدام رخداد هایی به میان آمد.

با تشکیل شورای ملی، مردم انتظار داشتند که دیگر همه عملکرد های حکومت و دولت با قانونمندی، شفافیت وبرمبنای نظام سازی سالم تحقق یابد ، اما شیوه کار مسوولین قوه اجرائیه در جریان معرفی وزرای پیشنهادی به شورای ملی وعملکرد های گام به گام آن حاکی از آن بود که نظر ها وخواستهای خویش را به اشکال و ذرایع گوناگون بر وکلا وبر شورای ملی بقبولاند وبه عباره روشنتر تحمیل کند.

هرچند برخی از مسوولین قوه اجرائیه آنرا یک امر طبیعی می دانند ، اما واقعیت اینست که مسوولین حکومت این مساله را در نظر داشته خواهند بود که در این میان افکار عامه مردم وجهان بر همه کار کردهای حکومتی و دولتی داوری خواهند کرد.

از سوی دیگر رویا رویی وکارکرد شورای ملی، از دو دستگی وچند دستگی وکلا تا اختلاف دامنه دار شان برسرماده ۱۰۶ وسرانجام احاله آن به رییس جمهوری کشور وارسال آن به قوه قضائیه وتائید پیروزی سه وزیر که نتوانسته بودند آرای معینه را بدست آورند مسایل گوناگونی را به میان آورد.

نخست سلب صلاحیت شورای ملی بدست خودش دو دیگر ارسال آن به قوه قضائیه سه دیگر توجیه قوه قضائیه از ماده ۱۰۶ که صراحت کامل را دارا میباشد ونکته آخر آنکه قوه قضائیه بدون آنکه نبض مواد قانون اساسی را درنظر بگیرد برتائید رای وپیروزی وزیران صحه گذاشت. اکنون شورای ملی در برابر آومون دیگری قرار گرفته است به نظر میرسد بار دیگر مسایلی مطرح بحث قرار گرفته که برخی از وکلا صرف با ارایه وپیشکش مصلحتهای شخصی خودشان ، عامدانه عاقلانه وآگاهانه برخی از ارزشهای قانون اساسی وقانون ذاتی قضات را نادیده میگیرند وراه تخلف می پیمایند.

به نظر میرسد که شورای ملی در حال فرو افتادن ولغزیدن در گرداب دیگری از کشمکش و دشواریست.

می پذیریم که شورای ملی با مصلحتهای فراوان شکل گرفت، اینرا هم می پذیریم که گروهها وحلقات نامتجانس در این تالار در کنار هم گرد آمده اند ،اما یک مسئله را نمیتوان پذیرفت که این گروهها وحلقات افراد نامتجانس نسبت به منافع ملی ومصالح همگانی احساس مسوولیت نکنند ودر پروسه نظام سازی بی تفاوت باقی بمانند. نظام سازی پیش از همه به ایجاد اعتماد ملی واعتماد سیاسی نیازمند است. این اعتماد سازی که با نظام سازی مترادف است واز جهات متعارف برخوردار است، همه را در بر میگیرد از حکومت ودولت آغاز وبه مردم وملت منتهی میشود.

به عباره دیگر این جریان اعتماد سازی نظام سازی سهم همه قابل تشخیص است:

این پروسه از شخص رییس جمهور آغاز می یابد ، با وزرای کابینه، اعضای ستره محکمه و وکلای شورای ملی وسایر اراکین دولت ادامه می یابد وبه مردم پایان مي پذیرد.

اگر چنین اعتماد فراهم نگردد نظام معتمد وقانونمند ساخته نمیشود ودر نتیجه همه تلاشها جز تحصیل حاصل نخواهد بود. با جمعبندی میتوان اذعان یافت که تا کنون اگر کشور ما فاقد چنان نظام قانونمندی است عوامل باز دارنده یی وجود داشته است واین عوامل باز دارنده ناشی از بحران اعتماد بحران قانون پذیری وبحران واقعبینی وبحران شفافیت بوده است.اعجاب آور اینست که چه بسیار کسانی که از راس هرم تا قاعده هرم قدرت دولتی در پی آن نیستند که به این بحرانها پایان بخشند ویا درحد پایان دادن به آن گامی بردارند.

د ورکې شوې پیژند پانې اعلان

د نصیر احمد رومان دسید محمد دزوی دبی بی سی د تعلیمی پروژو دفاینس دمرستیال دپیژندنی پاڼه ورکه شویده، که چا موندلی وی دمهربانی له مخی دی د ۰۷۰۴۸۹۶۶۱ نمبر مبایل سره تماس ونیسی او خپله شیرینی دی ترلاسه کړی.

ولسی جرګه: جلسه دیروزی ...

اما دیروز اسناد تحصیلی تعین شده آقای شینواری از سوی وزارت معارف به ولسی جرگه رسید.

گرچه بسیاری از نمایندگان توافق نمودند که رییس معرفی شده ستره محکمه به ولسی جرگه بیاید ودر مورد کارهایش به نماینده گان جواب ارایه کند، اما آقای شینواری از حضور در جلسه نماینده گان خود داری کرد.

قرار بود از میان ۹ تن از اعضای معرفی شده ستره محکمه دیروز برای چهار تن از سوی نماینده گان در ولسی جرگه رای تائید ویا رد داده شود ،اما بخاطر اختلاف در مورد اسناد تحصیلی شینواری وآمر های قضات پیشنهاد شده این کار به تعویق افتاد وجلسه دیروزی بی نتیجه پایان یافت.

شکایت مردم از ...

چند تن از نمایندگان مردم ولسوالی ورس ولایت بامیان میگویند که قاضی یاد شده بصورت آشکار از مردم رشوت میگیرد.

والی بامیان میگوید که مشکلات قضا در سراسر افغانستان وجود دارد ودر ولایت بامیان هم کمبود قاضی دیده میشود.

بانو سرابی میگوید که آنان به شکایت مردم در آن ولایت رسیده گی خواهند کرد ودر حال حاضر مشکلات آنان را به محکمه ولوی څارنوالی در میان گذاشته اند.

په کندهار کې ځان ...

د کندهار دوالی ویاند داود احمدی ددغې خبرې پخلی وکړ او زیاته یې کړه چې چاودیدونکی توکې په یوه سراچه ډوله موټر کې ځای پر ځای وا و کله چې د UN MACCA دمیاشن پاکوونکی موسسې دوه عراده کروزین ډوله موټر له هوایی ډګر څخه دښار په لور روان وو دشوراندام په سیمه کې له یوه سره ټکر او چاودنه رامنځته شوه داحمدی په وینا په دې چاودنه کې دموټر سپرلیو ته هیڅ زیان نه دی اوښتی خو موټر ویجار او خپله برید کوونکی وژل شوی دی.

هاشم اشجع: د ایران ...

خو بل لوړې ته په کابل کې د ایران سفارت که څه هم دافغان دولت دغه دریځ او غوښتنه غیر رسمی وبلله خود دغې پریکړې هر کلی یې وکړ. دایران دسفیر مرستیال هاشم اشجع زاده آریانا تلویزیون سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل چې افغان دولت یوازې باید په دغه خبره بسنه ونه کړی بلکې امریکې اوملګری هیوادونه په دې پوه کړی چې دا د ایران حق دی چې په سوه ییزه توګه د یورانیمو په غنی کولو لاس پورې کړی.

بل خوا اشجع زاده دا هم وویل چې په دې برخه کې دایران هیواد پریکړې او سپینیزې دی او په دې برخه کې به خپل سیاست ته بدلون ورنه کړی.

ده ایران ته دولسمشر حامد کرزی را روان سفر ته په اشارې سره وویل چې دا سفر به دافغانستان او ایران دملګرتیا مزی نور هم تینګ کړی او د پام وړ لاس ته راوړنې به ولري.

محصلان بلخ به رفتار خشونت آمیز مسوولان پوهنتون اعتراض کردند



صدها محصل در ولایت بلخ در اعتراض به برخورد رییس ومسوولان پوهنتون بلخ با محصلان تظاهرات کردند.

این محصلان خواهان عذر خواهی رییس پوهنتون از محصلان به دلیل رفتار خشونت آمیز وعدم اجرای اصلاحات در این پوهنتون شدند.

محصلان بلخ صبح دیروز به صنفهای درسی خود نرفته ودر حالیکه ده ها پولیس ضد شورش به حرکات آنان نظارت می کردند ، راهی نمایندگی کمیسیون حقوق بشر در شهر مزار شریف شدند تا نگرانی های خود را به مسوولان این کمیسیون ابراز کنند.

محصلان بلخ می گویند برخورد حبیب الله حبیب رییس پوهنتون بلخ با آنان همواره خشونت آمیز بوده وتاکید می کنند که این نوع رفتار با محصلان خارج از معیار های اکادمیک وبرخاسته از تفکر دیکتاتورانه است.

احمد مسعود محصل رشته طب پوهنتون بلخ میگوید: در تازه ترین مورد آقای حبیب یک محصل رشته انجینری مهندسی را سیلی زد ومورد لت وکوب قرار داد واین هم تنها بخاطر که در آن روز کارت هویت پوهنتون را با خود نداشت.

آقای مسعود می افزاید اگر محصلان جرمی را مرتکب شده باشند باید به پولیس معرفی شوند نه اینکه بدون تثبیت جرم مورد ضرب وشتم قرار گیرند.

ناصر یکی دیگر از محصلان مظاهره کننده میپرسد اگر خشونت در کانونهای اکادمیک وپوهنتون ها راه یابد برسرملت چه خواهد آمد؟

محصلان معترض همچنین از وضعیت بد لیلیه ها نظام درسی غیر معیاری فساد اداری ورشوه ستانی در پوهنتون بلخ شکایت دارند وخواهان اجرای اصلاحات در این نهاد آموزش عالی هستند.

مهندس حبیب الله حبیب رییس پوهنتون بلخ در تماس تلیفونی با بی بی سی در واکنش به تظاهرات محصلان گفت که این تظاهرات انگیزه سیاسی دارد.

من از این سمت ریاست پوهنتون کنار بروم.

ولی محصل معترض این ادعا را به شدت رد میکند.

حدود شش هزار محصل در رشته های مختلف مهندسی، حقوق وعلوم سیاسی، ادبیات اقتصاد آموزش و پرورش زرعت والهیات در پوهنتون بلخ درس میخوانند.

این پوهنتون از با اعتبار ترین نهادهای آموزش عالی در کشور است ولی وضعیت آموزشی در این پوهنتون نارضایتی گروه بزرگی از محصلان را بر انگیخته است.

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمدَ خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

اراده
زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی